## <u>مطبوعاتی اعلامیه</u>

# قدرتمندان باید موږ له هغو واکمنانو وژغوري، چې زموږ هوايي حريم ماتې شوې امريکا ته سپاري، چې نه يوازې زموږ جاسوسي، بلکې پر افغانستان بريد وکړي

د CNN د خبر له مخې د بايډن اداري ګانګرېس ته وويل چې له پاکستان سره ښايي يو هوکړه‌ليک لاسليک کړي، چې پر اساس به يې د امريکا متحده ايالات د پاکستان هوايي حريم په افغانستان کې د استخباراتي او نظامي عملياتو لپاره وکاروي. د پاکستان د بهرنيو چارو وزارت له لوري د دغه راپور تکذيب هم د تصديق په معنی دی.

د امريکا متحده اياﻻتو په دې وروستيو کې د پاکستان د هوايي حريم د يوه دهلېز په کارولو سره دوه ډرون بريدونه ترسره کړل چې ډېري خلک يې پکې ووژل. په افغانستان کې د امريکا له شرموونکې ماتې وروسته د پاکستان نظامي او سياسي رهبري څنګه د پاکستان هوايي حريم د امريکا بې پيلوټه او جنګي الوتکو ته پر يوه لويه لار بدلوي، چې په وسيله يې دوی زموږ افغان وروڼه بمباروي، په افغانستان کې د طالبانو پر دولت نظامي فشار راوړي او په بلوچستان کې د زموږ د اتومي اثبات جاسوسي کوي!؟

پاکستاني چارواکي په اغېزمنه توګه بايډن ته اجازه ورکوي، چې له مخکينۍ دروازې څخه تر وتلو وروسته له شاتنۍ دروازې څخه له لازياتو وړتياوو سره راشي. پر دې سربېره دغه خاين چارواکي د الله سبحانه وتعالی او رسول الله صلی الله عليه وسلم له اوامرو څخه په ښکاره سرغړونې سره له بايډن څخه غواړي، ترڅو له هند سره اړيکې ښې کړي؛ امريکا ته تسليمېږي، چې امريکا خپلې سيمه‌ييزو موخو ته ورسېږي يعنې مودي په سيمه کې ځواکمن کړي.

**اې د پاکستان مسلمانانو!** زموږ ګډوډ حالت د نظامي کمزورۍ له امله نه دی. موږ مخکې شوري روسيه له اسلامي نړۍ وشړله او اوس مو امريکا ايستلو ته اړ کړې ده. زموږ د کمزورۍ دليل اقتصادي کمزوري هم نه ده. د مسلمانانو سيمې د اقتصادي سرچينو له اړخه بډايې دي، د افغانستان په ګډون چې امريکايانو د «ليتيمو سعودي عربستان» ګڼلی دی. زموږ د کمزورتيا لامل هغه امريکا پلوه سياسي او نظامي رهبري ده، چې غواړي د امريکا ماتې پر بريا بدله کړي، د مسلمانانو د مقدساتو په ساتنه کې غفلت کوي، د اشغال شوو اسلامي خاورو د ازادۍ مخه نيسي او د غرب نړيوال نظم ته وفادار پاتې کيږي؛ چې قدرت ته د اسلام د بېرته راګرځېدو د مخنيوي لپاره جوړ شوی دی.

**اې د پاکستان د وسله‌والو ځواکونو مسلمانو افسرانو!** تر اوسني نړیوال نظم لاندې د مسلمانانو خیانت په ورځ په ورځ زیاتېږي. زموږ حاکمان به د FATF لېستونو، د پیسو نړیوال صندوق شرایطو او د ملګرو ملتونو د حللارو په نامه د غرب د ګټو خوندي کولو لپاره پلمو جوړولو ته دوام ورکړي. د دغه نړیوال نظم جرړې وباسئ، که نه دغه خاین چارواکي به د خیالي اقتصادي ګټو د خوندیتوب په نامه زموږ ستراتیژیکو ګټو قرباني کولو ته دوام ورکوي. الله سبحانه وتعالی تاسو ته یو زرین فرصت درکړی، ترڅو د خلافت دولت په تاسیسولو سره د دغه نړیوال نظم ځنځیرونه وشلوئ او پاکستان، افغانستان او منځنۍ اسیا د یوه دولت په توګه سره متحد کړئ. ټیپي امریکا په داسې دریځ کې نه ده چې ستاسو پر وړاندې ودرېږي. د نبوت پر منهج د خلافت د بیا تاسیس لپاره حزب‌التحریر ته په نصرت ورکولو سره موږ له دغو امریکا پلوه چارواکو څخه وژغورئ. الله سبحانه وتعالی فرمايي:

**﴿قُلِ اللَّهُمَّ مَالِكَ الْمُلْكِ تُؤْتِي الْمُلْكَ مَنْ تَشَاءُ وَتَنْزِعُ الْمُلْكَ مِمَّنْ تَشَاءُ وَتُعِزُّ مَنْ تَشَاءُ وَتُذِلُّ مَنْ تَشَاءُ بِيَدِكَ الْخَيْرُ إِنَّكَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾** [آل‌عمران: ٢٦]

***ژباړه:*** *ووایه اې الله، د هر څه مالکه! ته چې هر چا ته وغواړې حکومت او واکمني ورکوې او هر چا ته چې وغواړې ترې اخلې یې؛ هر چا ته چې وغواړې عزت ورکوې او هر چا ته چې وغواړې ذلیل کوې یې. ستا په لاس کې خیر دی او بېشکه ستا هر څه په وس کې دي.*

**د حزب‌التحریر ـ ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**د صدور ګڼه: 1443 / 19**

**۱۴۴۳هـ.ق، د ربیع الاول ۲۳مه**

**۲۰۲۱م، د اکتوبر ۳۱مه**

**#أفغانستان**

**#Afganistan**
**#Afghanistan**